مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۲/۰۸/۲۰

# ولس باید نا ګڼلې، ونه ګڼل شي

غازي امیر امان الله خان د خپل رعیت په درد درمند او یو قدرمند ټولواک وو. کله چې د ډیوډ جونز (بغدادي پیر) او د پیرنګیانو په لاړو لمدو سرسبیلو اردلیانو د هغه شخصیت وژنه او له واکه د بی واکه کولو هڅې پیل کړې، نو امیر د څو تنو ملګرو په ملتیا لومړی غزني او بیا قندهار ته لاړ. کله چې په لارې کې ورڅخه پوښتنه وشوه چې اعلیحضرته دا ملک ته چاته پریږدې؟ نو هغه ورته په ځواب کې وویل: (زما پاچاهي، زما د ولس له وینې څخه قیمتي نه ده، که زه پاتې شم نو پریمانه وینې به توئ شي). یعنی نه یې غوښتل چې له افغانستان څخه د میړدل ژرنده جوړه او د ولس هډوکي یې دل شي.

د پوهنتون د وخت زما یو دوست، اوس هم نور محمد تره کي ته خلاق رهبر او د ختیځ نابغه وایي. دا چې تره کي له خپل ولس سره څه وکړل؟ زه وربانديې هیڅ ډول منفي یا مثبته تبصره نه کوم؛ ځکه نومړی اوس د الله او تاریخ په محکمه کې دی. خو یوه خبره یې د شمشاد د غره هومره وزن لري؛ تل به یې ویل: (د ولس زور، د خدای زور دی) یعنی ولس د بدلون سرچینه او خپه کول یې ستره تیروتنه ده.

د سعودي عربستان د بهرنیو چاور پخواني وزیر، شهزاده سعود الفیصل به پخپلو کنفرانسونو کې په تکرار سره ویل: (په دري شیانو کې هیڅکله هم شک مه کوئ: د الله تعالی په ارادې، د یتیم په اوښکو او د ولس په طاقت) یعنی د ولس دریځ او غوښتنې باید له پامه ونه غورځول شي. زه فکر کوم یوه غوره بیلګه به یې د عربي پسرلي څپه وي چې له تونس څخه تر یمن پورې ځیني واکمن نظامونه او پخې ستې یې له بیخه ونړولې. یعني د ولس زور؛ د سیاست سونامي ده.

د ۲۰۱۵م کال په نومبر کې د ترکیې جنګي الوتکو د سوریې په شمال کې یوه روسی سوخوی الوتکه وویشته او د ترکیې د خاورې په څو متری کې دننه د سکروټې په څیر راپریوته چې پیلوټ یې هم تور سکاره شول. د ولسمشر، طیب اردوګان مانۍ اعلان وکړ چې زموږ په هوایي حریم تیري شوی او هیڅکله به معذرت ونه غواړو. څو ساعته وروسته د روسیې د فدراسیون مشر، ولادیمیر پوتین په خپل غبرګون کې وویل: (زموږ ځواب به ډیر چټک او ملا ماتوونکی وي) دقیقې لا تیرې نه وې چې اردوګان صیب په روسی ژبې په خپل ټویټر کې ولیکل: (هم بښنه غواړو او هم ژمنه کوو چې بیا به داسي غلطي تکرار نه شي) نومړی ځکه توبه ګار شو چې هر کال دري ملیونه روسان ترکیې ته د سیل لپاره راځي او نژدې پنځه ملیارده ډالري له ځان سره راوړي. یعني اردوګان د خپل غرور شمله د کرملین د قیصر په پښو کې کیښوده ترڅو ولس یې زیانمن نه شي.

له نن څخه ۷۵ کاله وړاندې؛ د ۱۹۴۷م کال په اګست کې هند له پیرنګیانو څخه خپلواکي واخیسته. لږه موده وروسته د لندن د معتبرو ورځپاڼو خبریالان د مهاتما ګاندي سره د مرکې لپاره ډهلي ته لاړل. یو تن انګریز ژورنالیست پوښتنه وکړه: ښاغلی ګاندي! ته خو ډیر هوښیار سړی یې او د نژدې څلور سوه ملیونو هندیانو مشر یې، نو څرنګه ممکنه ده چې ته دې د غوا او ډبرې عبادت وکړې؟ هغه ورته په ځواب کې وویل: (زه پوهیږم چې حیوان او بتان ما ته هیڅ ګټه او تاوان نه شي اړولې، خو زه په حقیقت کې د خپل ولس باور ته سر ټیټوم). یعني د ولس باورونه او ملي ارزښتونه باید نا ګڼلي ونه ګڼل شي.

کله چې په ۱۷۹۷م کال کې د امریکا د متحدو ایالتونو لومړني ولسمشر، جورج واشنګټن خپله اته کلنه دوره پای ته ورسوله، نو ځینو مشاورینو او اغیزمنو سیاستوالو ورته مشوره ورکړه چې بیا ځان کاندید کړي. هغه ورته وویل:(د امریکا ولس د خپلواکۍ او ډیموکراسۍ لپاره دا دومره لویه قرباني ورکړه، زه پاچا نه یم چې تر مرګه به ټولواک یم. زه به هغه څه کوم چې زما ولس یې غواړي) یعني د واک او مشرتابه کونجي؛ د ولس ملکیت دی.

د هلاکو د لمسي لښکرو په ۷۰۲ هـ ق / ۱۳۰۳م کال کې د دمشق تاریخي ښار ترخپلې ولکې لاندې راوست او د مسلمانانو ترڅنګ یې د یهودانو او مسیحیانو مشران هم کوټه قلف کړل. د جنګي بندیانو د تبادلې په خبرو کې امام ابن تیمیه هغوئ ته د روغې جوړې لپاره شرط کیښود چې د مسلمانانو سره جوخت به یهود او نصاری هم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

آزاديږي، ځکه چې هغوئ زموږ د ولس برخه او هيواد وال دي. سلفيان او د سياسي اسلام پلويان ابن تيميه ته د شيخ الاسلام لقب کاروي. دائرة المعارف کاږي چې شيخ الاسلام ۳۳۰ کتابونه ليکلي چې له نيمايي څخه زيات يې چاپ شويدي. دغه ستر امام پوهيده چې دين او عقيده د خالق او مخلوق ترمنځ د اړيکې نوم دی، خو په يوې جغرافيا کې اوسيدل او د مشترک تابعيت منل د ولس دوهم نوم دی چې بايد په هرې پريکړې کې يې نظر، معتبر وګڼل شي.

يو ځل په مکې کې د طواف په مهال، حضرت عائشې له رسول عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چې آيا حَطِيم (هغه نيم ديوال چې د کعبې شمالي ته د ناوې لاندې موقعيت لري) د کعبې برخه ده؟ پيغمبر صيب ورته ځواب ورکړ؛ هو. دا نيمکې ديوال د کعبې برخه ده خو د نه پيسو له امله همداسې بهر پاتې شويدی. عائشې (رض) بيا پوښتنه وکړه؛ که همداسې ده نو ولې يې د کعبې له خونې سره نه يوځای کوې؟ رسول (ص) ورته وويل: (عائشې ستا قوم، يعنې د مکې خلک لا د جاهليت سره نژدې دي او زه ډارېږم چې زړونه يې منکر نه شي. کنه نو ما به دا ديوال د کعبې سره يوځای کړی وو او د کعبې دا دنګه دروازه به می هم مځکې ته راټيټه کړې وه). يعنې د اسلام رښتينې رسول، د خپل امت د احساساتو درناوې کوي او ټولنيز نزاکتونه له پامه نه غورځوي.

يقيناً، هر هغه فرد، ګوند او نظام چې د خپلو خلکو ارادې ته درناوې ونکړي او په مهمو ملي پريکړو کې يې شريک او برخه وال نه کړي؛ ښايي يوه ورځ د نورو کوڅه ډب سپي، د دوئ زمري وداړي. نعرې که هرڅومره رنګينې او د لونګو درمندونه شي، وي به. خو د ولسونو تش نسونه؛ په وچو شعارونو نه ډکيږي !!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ